
ورځپانه
مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د زمري اوومه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۸مه | ۵۷۵یمه ګڼه

ځېره

۴ مخ

## لري کینګ



لري کینګ د ټلوېزیون په تاریخ کې لومړنی کس دی چې یوه خپرونه پوره پنځه ویشت کاله چلوي او په یو وخت یې یو میلیون کسان ګوري. هغه په دې کار سره په نړۍ کې ریکارډ جوړ کړی دی.

# پر ولس اور او پر واک ناندرۍ؛

## ملګري ملتونه: په شپږو میاشتو کې د جګړو له کبله نږدې ۳۵۰۰ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



۳

د بریښنا زیاتېدونکې ستونزه

۲ مخ


آیا حکم تبدیل آیاصوفیا به مسجد ظالمانه است؟

۲ مخ

ستاسې موخې له تاسې کمزوري انسانان جوړوي که پیاوړي؟

۳ مخ

## کرنې ریاست: ډېر ژر به په هلمند کې ۱۵۱ عصري ممیزخونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي



د هلمند د کرنې او مالدارۍ ریاست وايي، په دغه ولایت کې د کرنیزو محصولاتو د مدیریت د پروژې په اډانه کې د ۱۵۱ عصري ممیزخونو د جوړولو چارې پیل شوې، چې اوس د بشپړېدو په حال کې دي او ډېر ژر به یې پاتې چارې بشپړ او د انګورو بڼوالو په واک کې به ورکړل شي. د هلمند د کرنې رییس زلمی الکو وايي، چې دغه عصري ممیزخونې د یاد ولایت په مرکز لښکرګاه، نادعلي، ناوې، ګرمسیر، مارجې او نهرسراج ولسوالیو کې جوړېږي. الکو ویلي: «هلمند هر کال زرګونه ټنه انګور تولیدوی، پر دې سربېره چې تازه انګور خرڅوي، د انګورو د وچولو او ممیزو لپاره هم عصري ممیز خونو ته اړتیا لري، چې دغه اړتیا اوس د کرنې وزارت له خوا پوره کېږي.» یادې ممیزخونې په دغه ولایت کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت، د ممیزخونو د صنعت د ترویج، د بڼوالو د اقتصاد لوړولو او د انګورو باغونو د محصولاتو د ارزښت لوړولو په پار په معیاري او استنډرډ ډول جوړېږي.

## ملي امنیت شورا: طالبان دې دایمي اوربند او بین الافغاني خبرې پیل کړي

افغان حکومت یو ځل بیا پر طالبانو غږ کړی چې له جګړو لاس واخلي، دایمي اوربند وکړي او د بین الافغاني خبرو پر مټ دایمي سولې ته لار هواره کړي.

د ملي امنیت شورا د ملګرو ملتونو پر وروستي راپور غبرګون ښودلی دی. ملي امنیت شورا وایي، د ملګرو ملتونو راپور ښیي چې ملکي وګړو ته تر ټولو ډېره مرګ ژوبله د وسله والو طالبانو په بریدونو کې اوښتې ده. د سرچینې په خبره، که ملګري ملتونه وغواړي د دغه ډول راپورونو په چمتو کولو کې لا ډېره همکاري ورسره کولی شي، ځکه د ملکي وګړو مرګ ژوبله تر هغه لوړه ده چې په راپور کې راغلې ده. ملي امنیت شورا دغه راز وايي چې طالبان باید نور له جګړو لاس واخلي، دایمي اوربند وکړي، بین الافغاني خبرو ته دې تیار شي او په دې توګه دې دلته روانه اوږده جګړه پای ته ورسوي، څو ټولې خواوې د ملکي وګړو د خوندیتوب او هوساینې لپاره په ګډه کار وکړي.

دا په داسې حال کې ده د سولې خبرو له پرمختګ سره هممهاله په هېواد کې جګړې ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې ده چې هره ورځ پکې سلګونه افغانان وژل کېږي او ټپیان کېږي. له دې سره جوخت تازه ملګرو ملتونو ویلي چې افغانستان د ملکي وګړو لپاره د نړۍ ناامنه او خونړی هېواد دی.

## که امریکايي ځواکونه په ټاکلي نېټه له افغانستان څخه ونه وځي، اړینې پرېکړې به وکړو



۲ مخ

## د افغانستان بانک: چند کمره بنابر مشکلات تخنیکی برای زمان محدود از فعالیت باز مانده بودند




د افغانستان بانک، گزارشاتی مبنی بر قطع جریان برق و کمره های امنیتی آن اداره برای مدت چهار ساعت را رد می کند؛ اما می پذیرد که چند کمره بنابر مشکلات تخنیکی برای زمان محدود از فعالیت باز مانده بودند.

این در حالیست که چند روز قبل یکتعداد رسانه ها گزارشی مبنی بر قطع جریان برق برای چند ساعتی در د افغانستان بانک را به نشر رسانیدند.

د افغانستان بانک در یک خبرنامه در واکنش به این گزارش گفته است، که ساعت ۷:۱۰ عصر تاریخ دوم ماه سرطان سال جاری آمریت خدمات د افغانستان بانک به آمریت دفتر از غیرفعال شدن تعداد محدودی از کمره های امنیتی در حالی اطلاع داد که اجمل احمدی سرپرست ریاست کل د افغانستان بانک در جلسه ای با رئیس جمهور غنی حضور داشت.

منبع افزوده است، این در حالیست که تعداد محدودی از کمره های مذکور بنابر مشکلات تخنیکی حدود ساعت ۵:۴۰ دقیقه عصر همان روز از فعالیت باز مانده بودند.

در خبرنامه آمده است، پس از آنکه موضوع فوق بطور عاجل به سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک اجمل احمدی اطلاع داده شد به ساعت ۸:۰۰ بجۀ همان شب دریک جلسه ای عاجل با حضور آمرخدمات، ناظر کل، مسئولین خزانه و معاون دوم پشین د افغانستان بانک بررسی همه جانبه صورت گرفت.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریـــځ

# د برېښنا زیاتېدونکې ستونزه

له تاجکستان څخه افغانستان ته وارداتي برېښنا له ۳۵۰ میگاواټه څخه ۴۰ میگاواټه ته را لوېدلې ده او په دې سره په کابل او ځینو ولایتونو کې خلک له ستونزو سره مخ شوي دي. برېښنا شرکت وايي چې دا کار په تاجکستان کې د اوبو د کمښت له امله شوی او دوی هڅه کوي چې له ازبکستان سره د خبرو له لارې دا ستونزه حل کړي.

له بده مرغه له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې د برېښنا په برخه کې اساسي کارونه ونه شول. د دې پر ځای چې بهرنیانو زموږ د خپلو بندونو د جوړولو لپاره پیسې ورکړې وای، په قصدي او شعوري ډول یې افغانستان په وارداتي برېښنا پورې وتاړه. له همغه پیله دا وېره وه چې یوه ورځ به د منځنی اسیا هېوادونه د خپلو داخلي ستونزو او یا هم سیاسي لاملونو له مخې، دا برېښنا پرې کوي او افغانستان به تیاره شي. د تاجکستان وروستی کار همداسې یو گام دی.

که څه هم برېښنا شرکت ویلي چې دا کار د اوبو د کمښت له امله شوی، خو پخوا دغو هېوادونو ته د پیسو په ورکړه کې هم ستونزه وه او هغوی د برېښنا د پرې کولو گواښ کړی و.

ولسمشر غني د ملي یووالي په حکومت او بیا په دې نوي حکومت کې تل په دې اړه له خلکو سره ژمنې کړې وې چې د برېښنا ستونزې به حل کوي، بندونه به جوړوي او آن د ۲۰۱٦ ز کال د مارچ په ۱۹مه یې وویل چې دوی به په یوه کال کې دومره برېښنا تولید کړي چې په تېرو سلو کلونو کې نه وي تولید شوې. ولسمشر غني پر دې هم بسنه ونه کړه او ویې ویل چې افغانستان به د برېښنا په صادروونکي هېواد بدل کړي، قبایلي سیمو او آن هند ته به برېښنا ورکړي. هغه د سلگونو لویو او وړو بندونو د جوړولو ژمنه هم کړې وه، خو اوس چې د ولسمشر غني واکمني شپږ کلنه شوې، خلک پوهېږي چې دا ټولې ژمنې دروغ او د خلکو په سترگو کې د خاورې شیندلو او رایې تر لاسه کولو لپاره تش او بې مانا شعارونه وو.

اشرف غني برېښنا شرکت ته هم یو داسې کس د مشر په توگه ورلېږلی چې نه پر برېښنا پوهېږي او نه د افغانستان له جغرافیې، ستونزو او اړتیاوو خبر دی. هغه ته مهمه نه ده چې افغانان په څه حال کې دي او څه ستونزې لري. له همدې امله د برېښنا ستونزه ورځ تر بلې زیاتېږي او موږ ناوړه حالت ته روان یو. د برېښنا د کمښت ستونزه جدي ده، حکومت ته پکار ده چې له دې چارې سره د نورو مسایلو په شان سرسري چلند ونه کړي. له دې سره د خلکو ورځنی ژوند خرابېږي، ډېر شرکتونه او فابریکې به وتړل شي، په دولتي او شخصي ادارو کې به کاري ستونزې رامنځ ته شي او د ژوند ډېرې برخې به متاثره کړي. دا ټول زموږ پر اقتصاد او پرمختگ مخامخ منفي اغېز کوي. له همدې امله دا حالت د زغم وړ نه دی. پکار ده چې د برېښنا ستونزه جدي وگڼل شي. نه یوازې د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره باید د وارداتي برېښنا د دوام په اړه اساسي خبرې وشي، بلکې په کور دننه هم باید د برېښنا د تولید هڅې گړندۍ شي او نور باید د خلکو په سترگو کې د خاورو شیندلو سیاست ونه شي.

# آیا حکم تبدیل آیاصوفیا به مسجد ظالمانه است؟

مؤمن حکیمی / قسمت دوم و اخیر:

**آیا صوفیا در گیرودار حوادث تاریخی**

شهر قسطنطینیه (استانبول امروزی) که بخش هایی از آن در اروپا قرار دارد، از مهترین شهر ها در سطح تمام جهان است. این شهر در سال (۳۳۰م) بدست امپراطور بیزنطي قسطنطین أوّل تأسیس گردید. این شهر از موقعیت ممتاز و ویژۀ در سطح جهان برخوردار بود. تا آنجایی که می گفتند: «اگر تمام دنیا یک کشور باشد، یگانه شهری که باید پایتخت آن باشد، شهر قسطنطینیه است.» این شهر از همان آوان تأسیس آن امپراتوری روم شرقی یا بیزانسی ها آن را به عنوان پایتخت خویش انتخاب کردند.

زمانی که مسلمانان با دولت بیزانسی وارد معرکه گردیدند، این شهر از جایگاه خاصی برخوردار بود، به همین سبب رسول الله صلی الله علیه و سلم به فتح این شهر بشارت داده و فرمودند:

لَتُفْتَحَنَّ الْقُسْطَنْطِينِيَّةُ ، وَلَنِعْمَ الأَمِيرُ أَمِيرُهَا ، وَلَنِعْمَ الْجَيْشُ ذَلِكَ الْجَيْشُ (المعجم الكبير للطبراني – ۲ / ۲٤)

«شهر قسطنطینیه حتماً بدست مسلمانان فتح می شود، پس چه نیک است امیر آن و چه نیک است لشکری که آنرا فتح می کند.»

گفته می توانیم که فتح قسطنطینیه یکی از بزرگترین حادثه ها در سطح جهان بود و این که کلیسای ایا صوفیا در آن جا به مسجد مبدل گردید، توجه جهانیان را به خود جلب نمود.

**خوب است بدانیم واقعیت ها و پیش زمینه های این رویداد بزرگ تاریخی چیست؟**

**اول: مسیر فتح اسلامی عثمانی قسطنطنیه و جایگاه آیا صوفیا**

لشکر عثمانی ها به قیادت محمد ثانی (که بعداً به محمد الفاتح ملقب گردید) با کمال شجاعت و دلیری این شهر را مورد هجوم قرار دادند و در مقابل آنها امپراتور بیزانسی، قسطنطین با لشکری که از قبل تهیه دیده بود، شدیدا مقاومت می کردند. امپراتوار بیزانسی می خواست به هر صورت ممکن شهر و تخت شاهی خود را نجات دهد، به همین سبب پیشنهاد های مختلفی را به سلطان محمد تقدیم نمود، مانند پرداخت اموال، قبول اوامر و سایر پیشنهادات، تا اگر بتواند سلطان محمد را از هدفش منصرف سازد. اما سلطان محمد از آنها خواست تا به صورت مطلق تسلیم شوند و تعهد کرد که درین صورت مال، جان، عبادت گاه ها و تمام دارایی شان در امان خواهد ماند.

سلطان محمد متیقن بود که شهر در حال سقوط است، اما باز هم می کوشید تا از طریق صلح و معاهده داخل شهر گردد. به همین مقصد به امپراتور مکتوبی نوشت و از او خواست که بدون خون ریزی شهر را تسلیم نماید. در مقابل آن خروج او و خانواده و اطرافیان او را تضمین کرده و اجازه می دهد که به هر سو بخواهد برود و کسان دیگری که بخواهند نیز می توانند از شهر خارج شوند. و کسانی که در شهر باقی می مانند، جان ومال شان در امان خواهد ماند و هیچ مشکل و اذیتی به آنها نخواهد رسید. زمانی که این رساله به امپراتور رسید، مستشارین خود را جمع کرد و این قضیه را به آنها عرضه کرد. یک تعدادی به تسلیم نمودن شهر تمایل نشان دادند و تعداد دیگری به جنگ اصرار ورزیدند. امپراتور نیز نظر کسانی را مورد تایید قرار داد که خواستار جنگ و مقاومت بودند.

سلطان محمد به خیمه اش برگشت و بزرگان لشکر و اعیان و ارکان دولتش را طلب نموده و آخرین دساتیر را صادر نمود و بعد از آن این خطبه را ایراد نمود: «اگر قسطیطینیه فتح شود، حدیث نبوی و یکی از معجزات ایشان در مورد ما تحقق می یابد. و تقدیر و تمجیدی که درین حدیث صورت گرفته، نصیب ما خواهد بود. پس به فرد، فرد لشکر ما برسانید که این پیروزی بزرگی که بدست خواهیم آورد، به قوت و شرف اسلام می افزاید. پس هر فرد ما باید شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم را مشعل راه خود بگرداند و نباید از هیچ کدام تان عملی صادر گردد که مخالف این تعالیم باشد. باید از کلیساها و معابد دوری نموده و هیچ اذیتی به کشیشان، ناتوانان و کسانی که شامل جنگ نیستند، نرسانید.»

امپراتور بیزانسی نیز مردم را در میدان شهر جمع نموده و دست به دعاء و تضرع بلند نموده و به شیوۀ دین نصارا به ادای نماز پرداختند. امپراتور برای آخرین بار وارد ایا صوفیا شده و آنجا را زیارت کرد، بعداً به قصرش داخل شده و با تمام کسانی که در آنجا حضور داشتند، وداع نمود و آمادۀ جنگ شد.

زمانی که سلطان محمد فاتح از تسلیم شدن شهر مأیوس شد، هجوم شدیدی را آغاز کرد و دیوار های شهر را مورد ضربات قوی قرار داد. به تاریخ سه شنبه ۲۹ می ۱٤۵۳م هجوم عمومی را آغاز کرد و مجاهدین با گفتن تکبیر به سوی دیوار های شهر هجوم بردند که در نتیجه لشکر بیزانسی را خوف و ترس عجیبی فرا گرفت. هجوم دوم از سوی خشکی و بحر؛ همزمان آغاز شد. پلان جنگی خیلی دقیق طرح شده بود و لشکریان محمد فاتح نیز با شجاعت و دلیری زیادی هجوم آورده و به سوی دشمن به آرزوی پیروزی و یا شهادت، شتافتند. گرچه در نتیجۀ این هجوم تعداد زیادی از مسلمانان به شهادت رسیدند، اما در نهایت امر، موفق گردیده و وارد شهر شدند.

بعد از آن که شهر در نتیجۀ جنگ فتح شد، محمد فاتح به سوی کلیسای ایاصوفیا رفت. در آنجا تعداد زیاد مردم همراه با کشیشان و راهبان جمع شده و به دعا خوانی مصروف بودند. زمانی که سلطان به کلیسا نزدیک شد، همگان را خوف و ترس فرا گرفت و یکی از راهبان برخاسته و دروازه را باز نمود. سلطان داخل شده و به آنها دستور داد که به دعای شان ادامه دهند و از راهب خواست تا مردم را آرام و مطمئن سازد. و اظهار داشت که می توانند با اطمینان کامل به خانه های خویش برگردند. تعدادی از راهبان در زیرزمینی های کلیسا پنهان شده بودند، همینکه گذشت و عفو سلطان الفاتح را دیدند، از آنجا بیرون شده و همه به رضای خود مسلمان شدند. (زیاده ابوغنیمه جوانب مضیئه من تاریخ العثمانین)

فاتح امر کرد تا کلیسا را به مسجد مبدل سازند و آمادگی بگیرند تا اولین نماز جمعه را در آن جا اداء نمایند. پس صلیب ها و تمثال های که در آن گذاشته بودند، بدون این که تخریب گردد، از آن دور کرده و تصویر های که در دیوار و سقف آن وجود داشت با ورق نازکی از گچ پوشانیدند و منبری را برای خطبه آماده ساختند.

سلطان محمد فاتح برای مسیحیان در ادای شعایر دینی، انتخاب رهبران و مسئولین دینی و کسانی که در قضایای مدنی برایشان حکم نمایند، آزادی کامل داد. همچنان به سایر اقالیم کشورش این حق را به رهبران کلیسا قایل گردید، ولی در عین وقت جزیه[۱] را بالای همه گان مقرر نمود. در اولین جمعه؛ شیخ آق شمس الدین اولین خطبۀ نماز جمعه را در مسجد آیا صوفیا ایراد نمود.

چنانچه از تاریخ زندگی محمد ثانی (دوم) می دانیم که او تربیت و تعلیم دینی خیلی عمیق داشت و با وجود این که در سال های بیست عمر خود بود، چیز های زیادی را از فقه جهاد و سایر احکام اسلامی می دانست. به خصوص فرق بین شهر هایی که از سوی مسلمانان در نتیجۀ صلح فتح می شود و آن که در نتیجۀ جنگ و بکار گیری قوت عسکری فتح می شود. و این را می دانست که تقسیم غنایم به امام (رهبریت مسلمانان) موکول شده است، و او این صلاحیت را دارد که آنرا بین مجاهدین تقسیم نماید و یا به وقفی مبدل سازد که تمام مسلمانان از آن مستفید گردند. همین که محمد ثانی ( محمد فاتح) به کلیسای بزرگ رسید، جنود خود را از هر نوع تعرض و دستبرد به آن منع کرد و دستور داد که غنایم عسکری برای جنود اما ساختمان های شهر به سلطان (زعیم مسلمانان) تعلق گیرد.

البته ساختمان های شهر تنها به معنای آیا صوفیا نبود ، بلکه تمام کلیسا ها و قصر ها را در بر می گرفت و اعلان نمود که اینجا پایتخت حکومت عثمانی خواهد بود. (خلیل اینالجیك: تاریخ الدولة العثمانیة، ص ٤۳). محمد ثانی رسماً نام شهر را تغییر داد و برای خود لقب محمد الفاتح را برگزید.

**آیا صوفیا و تاریخ آن:**

شماری از علماء معتقد اند که این کلیسا به نام قدیسۀ مصری نامیده شده است که در یونانی به معنای «حکمت الهی» است. می گویند این زن در ابتداء بت پرست بود و بعدها از مسیحیت متأثر شده و شامل دین مسیحی شد. او آنقدر در عبادت و شعایر دینی فرو رفت که بالای اطرافیان خود تأثیر گذاشته و همه را به سوی دین مسیحی متمایل ساخت. زمانی که شهرت دینی او بلند شد، حاکم رومانی بت پرست در آن زمان متوجه او گردیده و امر نمود تا او را گرفتار و تا سرحد مرگ مجازات کنند. و به این ترتیب آیاصوفیا در راه ایمان مسیحی شهید شد. زمانی که قسطنطین بزرگ به دین مسیحی گرایید، جسد او را به قسطنطین انتقال داده و دفن کرد و در کنار آن کلیسای بزرگی در سال ۳٦ میلادی بنا کرد.

این ساختمان در اثر زلزله و به گفتۀ بعضی مورخین در نتیجۀ تمرد حاکم بیزانس در آن زمان ویران شد. امپراتور تیودور دوم آنرا مجدداً دوم اعمار نموده و دروازه های آنرا برای عبادت در برابر تمام مردم باز گذاشت. در سال ۵۳۲ م در نتیجۀ انقلاب دیگری، آیا صوفیا باز ویران گردید و امپراتور گوستنیان اول آنرا دوباره آباد کرد. این ساختمان که بنای آن پنج سال را در بر گرفت، از عجایب معماری بیزانسی به شمار می رود و به شکل Basilica (کلیسا و قصر سلطنتی که صالون طولانی دارد) ساخته شده است و گنبدی که بالای آن اعمار شده است، از بزرگترین گنبد های جهان و از جالب ترین ابتکارات فن معماری می باشد. گنبد آن ۵۵,٦ مترا ارتفاع دارد و قطر آن به ۳۲ متر می رسد. این گنبد بزرگ بالای چهار ستون اصلی قرار دارد که ارتفاع هر یک آن ۲٤,۳ متر است. علاوه بر آن دیوار های از سنگ های رخام ساخته شده که از مناطق مختلف آورده شده است و دیوار ها و سقف آن با موزائیک های براق طلایی و سنگ های رنگی تزئین شده است. طول مبنای اصلی این مسجد به ۸۲ متر و عرض آن ۷۳ متر است. بعد از آن که به مسجد تبدیل شد، دیوار های آن را با نوشته های زیبای مشهور ترین خطاطان عثمانی مزین شده است. و بعد از مدتی چهار منارۀ استوانه ای از طراز معماری عثمانی به آن افزوده شده است.

در سال ۱۲۰٤ م بعد از سقوط قسطنطینیه بدست کاتولیک ها، کلیسای ایاصوفیا به کلیسای بزرگ رومن کاتولیک مبدل شد و این حالت تا سال ۱۲٦۱ م ادامه یافت تا آنکه روم بیزانسی دوباره احیاء گردیده و ایاصوفیا را دو باره تحت تصرف خویش در آورد و به کاتدرائیک ارتودوکسی مبدل ساخت.

بد نخواهد بود اگر صفحاتی ازین تاریخ را نیز بگشاییم و تعامل مسیحیان اروپایی را نیز با بیزانسی ها از نظر بگذرانیم.

تاریخ جدایی بین روم و قسطنطینیه به بیشتر از هزار سال قبل می رسد. یعنی در نهایت قرن چهارم میلادی به امپراتوری شرقی و غربی تقسیم گردید. امپراتوری روم شرقی (بیزانسی) تا زمان فتح قسطنطینیه بدست عثمانی ها در سال ۱٤۵۳ م ادامه یافت اما بخش غربی آن در اوایل قرن پنجم میلادی در نتیجۀ هجرت و هجوم قبایل جرمن از هم پاشیده بود.

اروپا در قرن ۱۳ میلادی شاهد جنگ های صلیبی بود، هجوم چهارم قوت های صلیبی به هدف اشغال قدس از دست مسلمانان آغاز یافته بود. اما در جریان راه، مسیر جنگجویان صلیبی تغییر یافته و به سوی قسطنطینیه مرکز امپراتوری بیزانسی روی آوردند. زمانی که وارد شهر شدند، به چور و چپاول پرداخته و تعداد زیادی از ساکنان آن دیار را به قتل رساندند. این حادثه موجب اختلاف و انشقاق بزرگی بین کلیسای ارتودوکس شرقی، که مرکز آن قسطنطینیه بود و کلیسای کاتولیک رومی که مرکز آن واتیکان است، گردید. هجوم کاتولیک ها باعث ضعف ارتودوکس ها و امپراتوری بیزانسی گردید، به خصوص مرکز آن قسطنطینیه را با عزلت شدید و افلاس اقتصادی خطرناکی مواجه ساخت و تعداد ساکنان آن را که به نیم میلیون می رسید، به ٤۰هزار نفر پایین آورد، تا حدی که بیشترین بخش های این شهر مهم و تاریخی خالی از سکنه بود و تحلیلگران تاریخ به این باور هستند که همین قضیه باعث شد که خلفای عثمانی به آسانی بتوانند این شهر را فتح کنند. و حتی زمانی که این شهر توسط سلطان محمد فتح شد، او می خواست این شهر را مرکز خلافت خویش بسازد، اما بزرگترین مشکل در برابرش کمبود سکان این شهر بود.

**معذرت خواهی های واتیکان:**

پاپ واتیکان فرانسیس در موعظۀ هفته وار که در واتیکان ایراد می کرد، تعلیقی نیز در مورد برگشت آیاصوفیا از موزیم به مسجد در ترکیه داشت. او گفت: «بحر ها افکارم را به اماکن خیلی بعید می برد، من در مورد ایاصوفیا فکر می کنم، من واقعا حزین هستم.»

این سخنان پاپ واتیکان اذهان همگان را متوجه یک سلسله مواقفی می سازد که واتیکان در مورد استانبول داشته است.

در سال ۲۰۰۱ پاپ یوحنا بولس دوم حزن و اندوه شدید خود را در رابطه با هجوم چهارم صلیبی ها ابراز داشت. و گفت: «خیلی درد آور است که مهاجمین بر ضد برادران ایمانی خویش روی آوردند.

و در سال ۲۰۰٤ در حالی که "بطریرك قسطنطينية" بارتولومیوی أول به زیارت واتیکان رفته بود، پاپ یوحنا پولس دوم یک بار دیگر از خون ریزی ها ... ۳مخ

# آیا حکم تبدیل آیاصوفیا به مسجد ظالمانه است؟...

... و کشتار گاه هایی که بدست پیروان کلیسای کاتولیک برضد کلیسای ارثودوکس انجام یافته بود، عذر خواهی کرد.

مورخ مشهور قرون وسطی در کتاب مشهورش (تاریخ جنگ های صلیبی) می نویسد: «جریمۀ ضد بشری بزرگتر از هجوم چهارم صلیبی در تاریخ بشری وجود ندارد.»

پاپ واتیکان، اینوسنت سوم حملۀ چهارم صلیبی ها (۱۲۰۲-۱۲۰٤) را طرح نمود. و اعلان کرد که این حمله را به هدف استرداد قدس از دست مسلمانان و از بین بردن سلطنت ایوبی ها در مصر به راه می اندازد. اما مسیر این هجوم تغییر یافته و به سوی قسطنطنیه رفتند تا در آن دیار مرتکب اعمالی شوند که تا امروز نیز کلیسای کاتولیک از آن احساس خجالت می کند.

صلیبی های کاتولیک در مسیر راه خود شهر «زادار» (اکنون در کرواتیا واقع است) را محاصره نموده و با وجود این که اهالی آن جا کاتولیک بودند، اما با چور و چپاول گسترده ای مواجه شدند. پاپ گرچه ازین اعمال لشکر صلیبی خشمگین بود اما به خاطر این که غنایم مالی جهت تقویت عساکر خویش بدست آورد، از آن چشم پوشی نمود.

بر حسب مصادر تاریخی، شهر قسطنطنیه ( ارتودوکس مسیحی) نتوانست در برابر لشکر (کاتولیک مسیحی) مقاومت نموده و مدافعان آن فرار کردند. مهاجمین آنها را دنبال کرده و برج گالاتا را اشغال کردند و کشتی های جنگی بندقیه[۲] داخل شهر شدند. قوت های مدافع قسطنطنیه در برابر لشکر صلیبی های کاتولیک که هم در تعداد و هم از نگاه وسایل جنگی برتری داشتند، مقاومت نتوانستند.

**عملکرد اشغال گران کاتولیک با آیا صوفیا**

سه روز بعد از داخل شدن صلیبی ها به شهر سلسلۀ سرقت، چپاول، تخریب و ویرانگری آغاز یافت. پارچه های هنری یونانی، رومانی و بیزانسی را غارت کردند، خانه های مردم چور شد، کلیسا ها و دیر های شهر غارت شد و غنایم آنرا سواران صلیبی که از شهر بندقیه آمده بودند، میان خود تقسیم کردند.

سبروس فریونیس مؤرخ أمریکایي که أصل یوناني داشته و در تاریخ بیزانسی متخصص است، در کتاب خویش راجع به این حوادث می نویسد:

«لشکر لاتینی ها برای سه روز بزرگترین شهر اروپا را به گونۀ تخریب کردند که هیچ قابل توصیف نیست، درین سه روز آنقدر قتل، تجاوز، چپاول و ویرانگری کردند که حتی از تخریبکاران قوطی های عصر وحشت ( Goth قبائل جرماني شرقي ) نیز تصور آن نمی رفت.» فرینیوس در کتابش «بیزانسی و اروپا) می نویسد که لشکر اروپایی با ثروت های هنگفتی روبرو شدند که هیچ توقع آنرا نداشتند. گرچه ساکنان شهر بندوقیه ایتالیا هنر دوست بودند و توانستند شماری از قطعات هنری را از تخریب نجات دهند، اما فرانسوی ها تمام آثارهنری را تخریب کردند.

آیا صوفیا نیز در همین سلسله ویران گردید. صلیبی ها کراهیت و نفرت خویش را در برابر یونانی ها با هتک حرمت بزرگترین کلیسا در جهان مسیحیت ابراز داشتند. آنها تمام آن نمادهای نقره مسیحی را شکستند و کتاب های مقدس در آیا صوفیا را از بین بردند. آنها زن فاحشه ای را بر تخت بزرگ پتریارکی (جایگاه پاپ اعظم) نشانده و خود شان به نوشیدن شراب در ظروف مقدس کلیسا مصروف شدند.

این بود مختصری از داستان استیلای یک لشکر صلیبی های غربی بر کشور مسیحی هم کیش شان.

اما بعد از فتح اسلامی در سال ۱٤٥۳ میلادی، سلطان محمد الفاتح امر نمود تا ایاصوفیا را که در نتیجۀ بی توجهی و هجوم های پی درپی بالای آن به ویرانۀ مبدل شده بود، پاک کاری نموده و به مسجد تبدیل نمایند. برای اولین بار در حضور سلطان محمد در آن آذان داده و نماز را اداء کردند. عادت ترک های عثمانی این بود که چون قلعه و یا شهری را فتح می کردند، درفش های خود را در دیوار ها و برج های آن نصب نموده و به آواز بلند آذان می دادند و بزرگترین کلیسای آن را به عنوان فتح اسلامی، به مسجد مبدل می ساختند.

از آن زمان به بعد ایا صوفیا به مسجد مسلمانان مبدل شد و مردم آن دیار به عبادت الله واحد در آن پرداختند. این وضعیت در تمام مدت خلافت عثمانی استمرار یافت و درین فاصلۀ زمانی بعضی تعدیلات و تغییراتی در ساختمان آن ایجاد شد.

روایات تاریخی حاکی از آنست که محمد فاتح زمانی که زمام امور شهر استنبول را بدست گرفت، شهر استنابول و هم کلیسای ایاصوفیا به ویران و خرابۀ مبدل شده بود. به همین علت بود که چهار منارۀ خیلی قوی در اطراف آن اعمار کردند تا از یک سو به زیبایی آن بیافزایند و از سوی دیگر بنای ایاصوفیا را از فروریزی حتمی نگهدارد.

مورخین اروپایی می نویسند که سلطان محمد فاتح جوان دانشمند و با ثقافت بود و به چهار زبان سخن می گرفت. و حتی هنرمندان ایتالیایی مانند رسام مشهور جنتیل بیلیني در تصویری که از وی تهیه کرده است، این حالت را مراعات نموده و او را به شکل شخصیت برازنده، متفکر، با ریش بلند و در ردای بزرگی ترسیم کرده است و بعضی مورخین او را به اسکندر کبیر و تعدادی هم به یولیوس قیصر تشبیه کرده اند.

**پایان**

# پر ولس اور او پر واک ناندرې؛

## ملګري ملتونه: په شپږو میاشتو کې د جګړو له کبله

## نږدې ۳۵۰۰ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



سره له دې چې له میاشتو راهیسې په افغانستان کې د سولې هڅې روانې دي، خو دغه هڅې د دې سبب نه شوې چې دلته روانه جګړه پای ته ورسېږي او ملکي مرګ ژوبله راکمه کړي. تازه ملګرو ملتونو د روان میلادي کال د لومړیو شپږو میاشتو د تلفاتو راپور خپور کړی دی. په راپور کې راځي چې سلګونو ملکي افغانانو ته په دې شپږو میاشتو کې مرګ ژوبله اوښتې ده. د ډېرو تلفاتو مسوول طالبان بلل شوي دي، حکومت هم د تلفاتو مسوول دی، خو طالبان او حکومت د ملکیانو د وژلو پړه پر یو او بل اچوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما په وروستیو شپږو میاشتو کې په نښتو او جګړو کې د ملکي وګړو د تلفاتو راپور خپور کړی دی. په دغه راپور کې راځي چې د روان ۲۰۲۰ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د هېواد په بېلو ولایتونو کې ۳۴۵۸ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. له دې ډلې ۱۲۸۲ ملکیان وژل شوي او ۲۱۷٦ نور ټپیان دي. ملګري ملتونه وايي چې تر ټولو ډېره مرګ ژوبله د وسله والو طالبانو په بریدونو او نښتو کې افغان ملکیانو ته اوښتې ده. د سرچینې په خبره، سره له دې چې د تېر کال په پرتله ملکي تلفات ۱۳ سلنه کم شوي، خو بیا هم افغانستان د ملکي وګړو لپاره د نړۍ په کچه تر ټولو خونړی هېواد دی.

ملګرو ملتونه په دې راپور کې یوې بلې مسئلې ته هم اشاره کړې ده. سرچینه وايي، د طالبانو او افغان ځواکونو له لوري ملکیانو ته د مرګ ژوبلې اړولو په کچه کې هېڅ راز کموالی نه دی راغلی، دا ۱۳ سلنه کموالی هم ځکه راغلی چې بهرنیو ځواکونو او داعش ډلې بریدونه نه دي کړي. د سرچینې په خبره: ((د خپاره شوي راپور له مخې د ملکي وګړو د تلفاتو د ټیټې شمیرې اصلي لامل د نړیوالو پوځي ځواکونو او د داعش د خراسان څانګې د عملیاتو کموالی دی)).

د یوناما په راپور کې راځي چې د تل په څېر وسله وال طالبان د تر ټولو ډېرې مرګ ژوبلې مسوولین دي. د سرچینې په خبره، طالبانو له بېلو لارو، په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې لاس لرلی او تر پنځوس سلنې د ډېرې مرګ ژوبلې مسوولیت ددوی پر غاړه دی. په راپور کې راځي: ((په ټولیز ډول ۵۸ سلنه ملکي مرګ ژوبله د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځ ته شوې چې طالبان یې د ۱۴۷۳ (۵۸۰ وژل شوي او ۸۹۳ ټپیان) مسوول دي)).

د یوناما د راپور پر بنسټ د افغان هوايي ځواک په بریدونو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله هم دوه برابره شوې ده او تر طالبانو وروسته د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې تر ټولو ستر مسوول افغان حکومت دی. د سرچینې د راپور له مخې: ((افغان ملي امنیتي ځواکونه د ملکي وګړو د ټولو تلفاتو د ۲۳ سلنې مرګ ژوبلې ۷۸۹ (۲۸۱ وژل شوي او ۵۰۸ ټپیان) مسوول ګڼل شوي)).

بلخوا بیا افغان حکومت او طالبان د ملکي تلفاتو مسوولیت پر یو بل اچوي. د افغانستان د ملي امنیت شورا د ملګرو ملتونو پر راپور غبرګون ښود او په خبره یې د طالبانو په مستقیمو او غیر مستقیمو بریدونو کې ملکي افغانان مړه کېږي، نو ښه به وي چې دغه ډله د جګړې پر ځای سولې ته غاړه کېږدي او دایمي اوربند وکړي. ملي امنیت شورا وايي، په دې توګه به د ملکي وګړو ژوند په دایمي توګه خوندي شي.


بلخوا طالبان بیا د ملکي تلفاتو پړه پر افغان حکومت اچوي. د دوی په خبره، د حکومتي ځواکونو په هوايي بریدونو، عملیاتو او چاپو کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي او باید مخنیوی یې وشي.

دوی همدا راز حکومت د سولې په خبرو کې په خنډ جوړولو تورنوي او په وینا یې د حکومت د کړنو له امله جګړه اوږده شوې ده او د سولې پروسه ځنډېدلې ده.

ملګري ملتونه بیا له دواړو ښکېلو لورو غواړي چې ژر تر ژره دې د ملکیانو پر وړاندې دا روانه خونړۍ جګړه ودروي او د سولې لاره دې خپله کړي.

# د کرونا ویروس تازه څپه؛

## په نړۍ کې د کرونا د مثبتو پېښو او مړو شمېر یو ځل بیا د ډېرېدو په حالت کې دی



د راپورونو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو او مړو شمېر یو ځل بیا د ډېرېدو په حالت کې دی. دغه وضعیت نه یوازې دا چې ډېری هېوادونه بیا دې ته اړ کړي چې د دغه ویروس د لا خپرېدو د مخنیوي لپاره بیا سخت مقررات ولګوي، بلکې دې مسئلې ته یې هم د چارواکو پام واړولی چې د ویروس مخنیوی څومره ستونزمن کار دی.

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له ۱٦.۵ میلیونو اوښتی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ٦۵۴ زره او ۸۹ کسان مړه شوي او له لسو میلیونو ډېر تري ببرته رغبدلي دي. د دغه ویروس تر ټولو ډېرې پېښې د امریکا په متحده ایالتونو کې ثبت شوي دي. په دغه هېواد کې د کرونا ټولې مثبتې پېښې نږدې ۴.۴ میلیونو ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۱۵۰ زره ۵۳ امریکایان مړه شوي دي.

په ورته وخت کې د اسپانیا، فرانسې او جرمني په ګډون د اروپا په یو شمېر هېوادونو کې هم وضعیت مخ په خرابېدو دی.

په اسپانیا کې د کرونا د نوو پېښو له زیاتېدو سره سم چارواکي اړ شوي چې د مخنیوي لپاره‌یې نوي مقررات وضع کړي. دغه راز نور اروپايي هېوادونه هم پر خپلو هغو وګړو چې یاد هېواد ته د سیاحت لپاره ورغلي او اوس بېرته خپلو کورونو ته ستنېږي، د سفر محدودیتونه لګوي.

په جرمني کې چې د نورو اروپايي هېوادونو خلاف د کرونا وبا د خپرېدو مخه‌یې تر ډېره ډب کړې وه، په یوه مورد کې د کرنې په یوه فارم کې چې د هنګري، رومانیا، بلغاریا او اوکراین د وګړو په شمول ډېر بهرني کارګران په‌کې کار کوي ۱۷۴ کسان پر کرونا اخته شوي دي.

د امریکا په متحده ایالتونو کې چې د نړۍ تر ټولو سخت کرونا ځپلی هېواد دی، دغه ویروس پکې په ډېرې چټکۍ سره د ودې په حال کې دی.

په وروستیو پنځو ورځو کې په دغه هېواد کې د ورځې په متوسط ډول د کرونا له امله له زرو زیاتو کسانو مړینه ثبت شوې او په دې موده کې د ورځې په متوسط ډول د دغه ویروس ٦۸ زره نوې مثبتې پېښې ثبت شوې دي. فلوریدا، ټکزاس، کالیفورنیا او اریزونا چې تر نورو ډېر کرونا ځپلي ایالتونه بلل کېږي، پکې ډېر اقتصادي فعالیتونه په ټپه درول شوي او د ماسک کارول په ډېرو سیمو کې اجباري شوي دي.

## د کتاب خبرې


# د یووېشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

**دریمه برخه**

**ستاسو راتلونکی اوس پیلیږي!**

**اتلسم څپرکی**




که مو په اساسي توگه سیمینارونو ته غوږ نیولو ته زړه کېږي، نو د هغو کسانو لیدنې ته وخت ورکړئ چې د دغو سیمینارونو تعلیمي او روزنیزې چارې یې په لاس کې وي.
د پیسو گټې او د تولیداتو د کیفیت کتلو ته وخت ورکړئ او شرکت داسې ښه سم وگورئ چې ایا رښتیا هم ستاسو له زده کړې او روزنې سره لېوالتیا لري؟ دا هر څه یوازې په نیم ساعت مجلس یا د هغوی د رنگا رنگ ویډیوگانو په کتلو او د خلکو د پیسو گټلو د کیسو په اورېدلو نه کېږي. د شرکت د ښې پېژندنې لپاره باید له ځایه پاڅې او د هغوی په تعلیمي، روزنیزو او بېلو سیمینارونو کې گډون وکړې.
که مو په اساسي توگه سمینارونو ته غوږ نیولو ته زړه کېږي، نو د هغو کسانو لیدنې ته وخت ورکړئ چې د دغو سیمینارونو تعلیمي او روزنیزې چارې یې په لاس کې وي.
پام مو وي، د بازارموندنې زیاتې شبکې د ښوونیزو پروگرامو خبرې کوي؛ خو د عملي کولو پلان یې نه لري. یوازې د کتابونو د یوه فهرست سپارښتنه درته کوي او بس. بیا مو پوهوي چې څنگه خپل ملگري او دوستان دې تجارت ته راولئ.
په همدې خاطر له وخته گټه واخلئ، ښه په احتیاط د شبکه یي بازارموندنې یو شرکت انتخاب کړئ. ځکه یوازې د گوتو په شمار شرکتونه ښوونیز او روزنیز پلانونه لري. که رښتیا شي، ځینې شرکتونه خورا گټور تعلیمي پروگرامونه پلي کوي.


**د بازار موندنې د شبکې اړوندې پوښتنې**

د بازارموندنې د شبکې په اړه باید له ځانه دغه پوښتنې وکړې:
څوک یې مخ ته بیایي؟
ایا شرکت عملي کېدونکی ثابت پلان لري؟
ایا شرکت په خپل ښوونیز او روزنیز پلان کې تجارتي مهارتونه او ځاني پرمختگ لري؟
ایا شرکت قوي، باکیفیته او وړ تولیدات لري چې تاسو د هغو له بازارموندنې سره لېوالتیا وښیئ؟
څوک یې مخ ته بیایي؟
هغه بې تجربې کسان چې د S او E کونجونو په فکر تجارت پیلوي، نو د یوه شرکت پیاوړتیا د تولیداتو، پیسو گټلو او پرمختگ په تله تلي. زه دغو ټولو ته چندان ارزښت نه ورکوم، زه هغه خلک څارم چې د شرکت واگې یې په لاس کې دي.
زه نه وایم چې تولیدات، پیسې گټل او دې ته ورته څیزونه اړین نه دي. خو هېڅ داسې شرکت به ونه مومئ چې یوه نه یوه ستونزه دې ونه لري. ستونزې هر وخت وي. خو که تاسو داسې شرکت انتخاب کړئ چې د تکړه خلکو په لاس کې وي، نو د ستونزې پېښېدو پر مهال به هغوی ستونزه سمدستي حل کړي. رښتیا هم، که شرکت د ښو خلکو په لاس کې وي، نو هغوی په ډېره اسانۍ د هرې ستونزې حل راباسي. او که د شرکت واگې له کمزورو کسانو سره وي، نو د ستونزو د حل لپاره به هېڅ هم ونه کړای شي.
د یوه کتاب ارزښت د هغه له پښتۍ څخه نشئ معلومولای. باید د شرکتونو د پرمختگ ویډیوگانې او ویبپاڼې وگورئ، پر اصولو یې غور وکړئ، د هغوی په شالید، تجربه، پخوانی حالت او ځانگړنو ځان خبر کړئ. هغوی په ځانگړې توگه وپېژنئ. که کولای شئ، نو په مستقیم ډول کار ورسره وکړئ، ځکه دوی ستا د تجارت شریکان دي.
جان: غواړم د شرکتونو له لوري یو نا درک شوی څیز روښانه کړم. دوی وایي:«که غواړئ ډېرې پیسې وگټئ، نو باید همدا اوس لاس په کار شئ.» دا خبره بلکل ناسمه ده.
رابرټ: دا خبره نه یوازې غلطه ده، بلکې بیخي کم‌عقلي ده. زیات تجارتونه تر پیلېدو وروسته په لومړي یا دویم کال ناکامېږي. د بازارموندنې شبکې هم همداسې دي. ولې باید سخت کار، وخت او انرژي په داسې شرکت کې په پانگونه ولگوو چې هېڅ شالید او سابقه نه لري.
جان: د بازارموندنې پیاوړې، مناسبې او غوره شبکې پېژنم چې د رامنځه کېدو یې درې کاله کېږي او د ځینو بیا دېرش کاله کېږي. دا خبره سمه ده چې له داسې خلکو سره یو ځای کېدل چې نوی یې په کار پیل کړی وي، په کار کې د حیرانتیا او انرژۍ سبب گرځي. خو له هغو شبکو سره یوځای کېدل چې لسیزې یې کار کړی وي د پیاوړتیا او اعتبار موندلو سبب کېږي. له هغو شبکو سره په یو ځای کېدو کې باید ډېر احتیاط وشي چې نوی یې په کار پیل کړی وي.
د دې لپاره چې وپوهېږې په څه شي پسې گرځې او له چا سره باید تجارت وکړې، سخت کوښښ ته اړتیا ده.
د خلکو په دې خبرو تېر نه وزې چې وایي:«شتمنېدل له نوي شرکت سره په یوځای کېدو کې دي، یا له پنځه کلن یا پنځه دېرش کلن شرکت سره په یوځای کېدو کې دي.» د شتمنېدو لپاره هېڅ چل او جادو ته اړتیا نشته. ستاسو لپاره یوازې هغه شرکت غوره دی چې کار کوي او اوږدمهاله ښکاري.

**دوام لري...**

# لري کینگ

شفیق امیرزی




لري کینگ مشهور امریکایي ژورنالېست او د خپرونو چلوونکی دی. د هغه ژوند په زړه پورې دی او د ډېرو لپاره مثبت پیغام لري. لري کینگ له ژورنالېزم سره ډېره مینه لرله، خو خپلې دغه مینې ته د رسېدو لپاره یې ډېر زیار هم گاللی دی. هغه په زیار او زحمت د لومړي ځل لپاره په راډیو کې له صفاکارۍ کار پیل کړ. بیا یې له عادي خبریالۍ کار پیل کړ او تر دې چې د یوې محلي راډیو له عادي صفا کار بیا د ټلوېزیون په تاریخ کې په یوه مهمه څېره بدل شو. لري کینگ لا هم خپرونې چلوي او له کلونو راهیسې د سي ان ان ټلوېزیون تکړه ژورنالېست دی. هغه یوه خپرونه پنځه ویشت کاله وچلوله، دا د ټلوېزیون له جوړېدو راهیسې یو ستر ریکارډ دی چې یوه خپرونه دې پوره پنځه ویشت کاله وچلول شي او په یوه وخت کې یې دې یو میلیون کسان د ټلوېزیون له پردې وگوري.
کینگ چې اصلي نوم یې (Lawrence Harvey Zeiger) دی، د ۱۹۳۳ز کال د نومبر په ۱۹مه د نیویارک په بروکلېنک کې زیږېدلی دی. پلار یې جیني سیټلېټز نومېده. پلار یې په لیتوانیا کې زیږېدلی و، مور یې هنگري اصلي تبعه وه، خو په امریکا کې اوسېده، چې شخصي کاروبار یې درلود او په واړه هوټل کې پر کار بوخته وه. د کورنۍ مشران یې ارتودوکس یهودیان وو. کینگ په بروکلین کې یوه عامه ښوونځي کې شامل کړل شو، خو دی د ښوونځي زده کوونکی و چې پلار یې د ۴۴ کلونو په عمر ومړ. د هغه مور اړ شوه چې کار وکړي او تر څنگ یې د حکومت له مرستو په استفادې د خپلو ماشومانو پالنه وکړي. د پلار مړینې د کینگ پر ژوند خورا منفي اغېز وکړ، له ژوند سره یې هیله مندي ختمه شوه او ښوونځي نور ورته په زړه پورې نه و. ده غوښتل چې له مور سره یې په کارونو کې مرسته وکړي، پیسې وگټي، خو مور یې دی زده کړو ته هڅاوه تر دې چې له ښوونځي فارغ شو او د خبریالۍ مینه یې په سر کې گرځیده. کینگ له ښوونځي سره دومره مینه نه لرله، خو کورنی کار او خبریالي ورباندې گران وو. له ښوونځي تر فراغت وروسته یې د لومړي ځل لپاره متې بډ وهلې چې چېرته په کومه راډیو کې دنده پیدا کړي.
خو د کینگ د هستوگنې په ځای کې راډیویي خپرونې پرمختللې وې او بې تجربې کسانو ته د کار زمینه پکې نه برابرېده. هغه اړ شو چې فلورېډا ته لاړ شي، ځکه په دغه ښار کې د راډیو او رسنیو بازار نوی و او د کار فرصت هم ورته برابرېده. کینگ ته دلته هم د کار زمینه نه برابرېده. یو خو چا نه پېژانده او بل یې تجربه نه لرله.
د سي بي ایس یو کارکوونکی د ده ملگری و، د هغه په مشوره یې فلوریدا ته سفر وکړ. کینگ میامي کې و. په کار روزگار پسې گرځېده او د رسنیو دروازې یې ټکولې. چا دنده نه ورکوله، ځکه دی یو بې تجربې ځوان و چې یوازې په مینه او له کار سره په شوق یې په راډیو کې گومارل د رسنیو مدیرانو ته معقول کار نه برېښېده. ده ډېره هڅه وکړه، ډېره سختي یې تېره کړه، تر دې چې په راډیو کې یې خپله لومړنۍ دنده پیدا کړه. په میامي کې د یوه واړه راډیویي سټېشن مدیر هغه په دفتر کې د ننه د راډیو د تجهیزاتو د پاکولو او صفا کولو لپاره ونیو. دا راډیو هغه مهال (WAHR) نومېده چې اوس هم نشرات کوي او نوم یې (WMBM) دی. دی همدلته په صفاکارۍ بوخت و چې یو وخت په راډیو کې یو کارکوونکی کمېږي، نوي کارکوونکي ته اړتیا پیدا کېږي او دی له مدیر سره خبرې کوي چې کار ورکړي. مدیر یې په لومړي سر کې نه ورسره مني، خو تر ډېر ټینگار وروسته ده ته اجازه ورکوي چې د راډیو سټډیو ته دننه شي او خپله لومړنۍ خپرونه اورېدونکو ته وړاندې کړي.
د لري کینگ غږ د لومړي ځل لپاره د ۱۹۵۷ز کال د مې په لومړۍ نېټه د سهار په ۹ بجو له راډیو خپور شو. ده په راډیو کې د موسیقۍ یوه خپرونه مخ ته وړله، چې د خلکو فرمایشي سندرې به یې خپرولې او خبرې به یې کولې.
لري کینگ بیا وروسته په خپل یوه کتاب کې د خپلې لومړنۍ خپرونې په اړه وایي چې خورا سخته ورځ وه. دی وایي چې کله د لومړي ځل لپاره سټډیو ته د ننه شو، سخت تر فشار لاندې و، مایک ته تر کېناستو وروسته حیران و چې څه ووایي. د تخنیک همکار ورته اشاره کوله چې نشرات پیل شوي دي او باید یو څه ووایي. دی حیران دیران و، وایي، هومره تر فشار لاندې وم چې پر بټه گوته مې زخه و او وینې ترې روانې شوې. همدا مهال پرېکړه کوي چې صادقانه هر څه ووایي. دی وایي مایک ته نږدې شو او و یې ویل، درنو اورېدونکو سلام، زه لري یم، نن مې په راډیو کې لومړۍ ورځ ده او نه پوهېږم څه ووایم، باید صادقانه ووایم چې ډېره سخته ده او سخت تر فشار لاندې یم. همدې صداقت کینگ مشهور کړ. له دې وروسته لري کینگ د خلکو په زړونو کې ځای درلود. لري کینگ وایي چې د بریالۍ خبریالۍ لپاره مهمه خبره دا ده، چې هر څه له زړه ووایي او هغه څه نورو ته ونه وایي چې ته پخپله باور نهورباندې لري.
له دې وروسته کینگ د میامي په ساحلونو کې مینه وال لرل. خپرونه یې خلکو اورېده. ده به لومړی د موسیقي یوه خپرونه چلوله، بیا به یې تر غرمې وروسته دوه خبري سرویسه وړاندې کول او سپورتي خبرونه به یې هم تر اورېدونکو رسول.
کینگ خپل کار په وړه راډیو کې د موسیقي له خپرونې پیل کړ. بیا یې بله خپرونه پیل کړه، سهار به له راډیو تللو او په میامي کې به یې یوه واړه ساحلي هوټل ته ځان رساوه. په دې هوټل کې به یې له هغو خلکو سره مرکې کولې چې د سهارنۍ لپاره به راتلل. خپله لومړنۍ مرکه یې د دې هوټل له یوه خدمتگار سره وکړه او له هغه یې د هوټل او کاروبار په اړه پوښتنې وکړې. له همدې مرکې دوه ورځې وروسته د کینگ د بخت ډېوه وځلېده. د امریکا مشهور سندرغاړی بابي دغه هوټل ته د سهارنۍ لپاره راغلی و. هغه څو ورځې وروسته په میامي کې کنسرت درلود، له همدې کنسرت مخکې یې له کینگ سره مرکه وکړه او دې مرکې ډېر مینه وال پیدا کړل. دا د کینگ په ژوند کې لومړنی مشهور کس و چې مرکه یې ورسره وکړه.
کینگ د مرکه کولو او په زړه پورې پوښتنو په برخه کې فوق العاده استعداد درلود. همدې مسئله هم میلمانه بوخت ساتل او هم اورېدونکي. د مرکو له لړۍ وروسته یې په همدې راډیو کې په ژوندۍ بڼه نورې خپرونې پیل کړې. وروسته یې ځینې خپرونې ټلوېزیوني شوې او د میامي په محلي ټلوېزیوني چینلونو کې به خپرېدې. میامي انډر کاور یې مهمه خپرونه وه، چې هره یکشنبه غرمه مهال به خپرېده او په هغه کې به یې مهم حکومتي چارواکي مېلمانه کول او د ښار په بېلو مسایلو او ستونزو به یې خبرې ورسره کولې. دی وایي، په ټلوېزیون کې یې بریا د یوه تکړه ممثل همکارۍ ته ورگرځي. دی وایي، یو وخت د امریکا مشهور کمېډین جکي گلیسیون میامي ته لاړ. ده هلته ځینې پروگرامونه لرل، بیا له کینگ سره اشنا شو. دوی مرکه لرله، خو جکي د کینگ له کارونو سره یو څه موافق نه و. هغه تر سهاره له کینگ سره لگیا و، ده ته یې ډېر څه وښودل، ان د دفتر او سټډیو ډیکور او څراغونه یې هم ورته بدل کړل، دی وایي، له دې وروسته یې ډېره همکاري ورسره لرله او ډېرې مشورې یې ورکولې.
له همدې سره د کینگ بریاوې پیل شوې. په مهمو سپورتي غونډو او لوبو کې یې ویاندویي کوله. ژوندۍ خپرونې یې چلولې، د ټلوېزیون پر پرده راڅرگندېده او مینه وال یې ورځ په ورځ ډېرېدل.
په سي ان ان کې په ۱۹۸۵ز کال لري کینگ لایف خپرونه پیل کړه. دا خپرونه پوره پنځه ویشت کاله وچلېده او ورځ په ورځ یې لیدونکي ډېرېدل. د شمېرو او نظرپوښتنو له مخې دغه خپرونه په یوه وخت کې یو میلیون کسانو په ژوندۍ بڼه کتله. په دې خپرونه کې کینگ د امریکا له مهمو او مشهورو څېرو سره د ازاد بحث او ټوکو ټکالو تر څنگ جدي پوښتنې هم کولې او خلکو به له دې خپرونې خوند اخیست. سي ان ان وایي چې کینگ په دې وخت کې نږدې دېرش زره مرکې کړې دي. کینگ له یو اس اې ټوډې سره هم نږدې شل کاله همکاري لرله. د ۲۰۱۰ز کال په جون کې کینگ اعلان وکړ چې نور به په سي ان ان کې خپله لري کینگ لایف خپرونه دروي، خو له سي ان ان سره به په نورو برخو کې خپله همکاري لري. دا خپرونه له پوره پنځه ویشت کاله خپرېدو وروسته په ۲۰۱۰ ز کال کې ودرېده. دا د ټلوېزیون په تاریخ کې هغه خپرونه ده چې تر ټولو ډېر یې دوام وکړ او تر ټولو ډېر مینه وال یې لرل.
لري کینگ د دندې او کارونو تر څنگ په ۱۹۸۷ز کال کې د زړه له حملې وروسته یو خیریه بنسټ جوړ کړ. نوموړي د دې بنسټ کارونه هم مخ ته وړل. لري کینگ د خپل کار پر مهال گڼې جایزې گټلې دي. هغه د راډیویي جایزو په برخه کې د نړۍ د څلورم غوره چلوونکي لقب خپل کړی دی او همدا راز د ټلوېزیون په تاریخ کې په نړۍ کې د ټلوېزیوني خپرونو تر ټولو غوره چلوونکی بلل کېږي. کېبل اې سي، بېسټ ټاکر، سکاپوس، طلایي مایک، د غوره او اغېزناکو بحثونو لپاره په امریکا کې د ولسمشر مشهوره جایزه، د ارتباطاتو جایزه، افتخاري ماسټري او له برېډلي پوهنتون افتخاري دوکتورا او په خبریالۍ کې د زړورتیا جایزې هغه ویاړونه دي چې کینگ ځان ته ځانگړي کړي دي.
لري کینگ د خپل ژورنالیستیک ژوند پر مهال نږدې ٦٠ زره مرکې کړې دي. هغه د نړۍ له مشهور شخصیتونو، فلمي ستورو، سپورتي لوبغاړو او تر ټولو ډېر له سیاستوالو سره مرکې کړې دي. ښایي هېڅ مشهور شخصیت نه وي پاتې چې له کینگ سره یې مرکه نه وي کړې. لري کینگ ځانگړې وړتیا لري، هغه په خپله یوه مرکه کې ویلي، د هېڅ مرکې لپاره یې مخکیني سوالونه نه دي جوړ کړي، بلکې خبرې کوي، بحثونه کوي او له دې خبرو پوښتنې را وباسي. دی وایي، خبریال باید صادق وي، له زړه خبرې وکړي، له اورېدنکو سره یې صادقانه وچلېږي او په دې توگه به یې مخاطبین ډېر وي. کینگ زرگونه مرکې کړې دي او وایي چې له خپل کار خوښ و، له کار سره یې مینه وه او همدې مینې په نړیواله کچه مشهور کړ. هغه د نړۍ تر ټولو گرانبیه چلوونکی و، په دې مانا چې لوړ معاش یې درلود او خپرونې یې هم زرگونه مینه وال لرل.
کینگ یوه شي دې ځای ته ورساوه او هغه له خپل کار سره مینه وه. ده د زړه له تله غوښتل خبریال شي، په راډیو کې کار وکړي او ټلوېزیوني څېره وي. له همدې امله یې په یوه محلي راډیو کې له صفاکارۍ پیل وکړ او د نړۍ د تر ټولو غوره ټلوېزیوني خبریال لقب یې خپل کړ. دی لا تر اوسه ژوندی دی، ځینې خپرونې چلوي، خو د پخوا په څېر یې روغتیایي وضعیت یاري نه ورسره کوي.

همیانی

# ستاسې موخې له تاسې کمزوري انسانان جوړوي که پیاوړي؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

وو درو ویلسون د موخو اهمیت ته په اشارې وایي: «موږ د موخو په درلودو سره پرمختگ کولای شو، ټولو بریالیو انسانانو د ځان لپاره موخې درلودې، ځینې له موږ دې ته اجازه ورکوو چې موخې مو ومري، خو ځینې نور بیا خپلو موخو ته د رسېدو هڅه کوي». د دې لپاره چې خپلې موخې لاس ته راوړی، دا سپارښتنې هر خت په یاد لرئ:

د دې لپاره چې خپلو موخو ته نږدې شی، پوه شی چې له هغه لاس اخیستل او یا د هغه په مقابل کې تسلیمېدل په تاسې پورې تړلې موضوع ده، نه پر هغه ځای پورې تړلې چې تاسې پکې یاستی.

هر څوک موخو ته درسېدو پر لار له ستونزو سره مخ کېږي، کله چې بریالی نه شي، بیا بهانې کوي او ټول پام یې دې ته وي چې کوم عیب را پیدا کړي. څنگه هغه څه پېښ شول چې هېڅ انتظار مو یې نه کاوه؟ څنگه یو کس خپل کارونه خراب کړي؟ څنگه شرایط پر هغه اغېز وکړي؟

خو اصل واقعیت دا دی چې بیروني شرایط یو څوک نه ماتوي او نه یې په لاره کې خنډ گرځي، مهم د یو چا درون دی چې هلته څه دي. ډېری کسان خپله د خپلو موخو د لاس ته راوړلو مخه نیسي، د دې ډول کسانو د ماتې عوامل بیروني نه دي، بلکې د هغوی داخلي افکار دي.

«ډېری کسان خپله خپلو بالقوه وړتیاوو ته د رسېدو مخه نیسي.»

هغه کسان چې خپلو موخو ته رسېدلي، د هغوی وهل شوي لارې د هغو کسانو په پرتله چې ناکام شوي دي، اسانه نه دي. الیزابت ککلي مو په یاد راوړئ. هغه په هغه موقعیت کې چې ټول ځیزونه یې د غوښتنو خلاف وو، هغه بیا هم بریالی شوه چې خپله موخه لاس ته راوړي. موږ باید نور بهانې کول هېر کړو، موږ باید له کوچنیو مسایلو سره د مخ کېدو پر مهال بهانې ونه لټوو. د دې پر ځای باید زموږ برخورد لکه د وتلي مخترع لئونار دو داوینچي په څېر ښکاره وي. هغه وایي: «ستونزې او خنډونه نه شي کولای موږ له هرڅه راوگرځوي. هره ستونزه یو دردسر لري چې ډېری کسان ورته تسلیمېږي. هغه څوک چې کلک هوډ لري، هېڅکله خپل تصمیم نه بدلوي». یوازې په همدې ذهنیت او کلک هوډ سره کولای شی خپلې موخې تعقیب کړی. د ماتې خوړلو ضامن یوازې له هڅو لاس اخیستل دي. د کار له پرله پسې کولو تر لاس اخیستو پرته بل هېڅ لوی خنډ او ستونزه نشته.

باید دې ته مو پام وي چې موږ هر یو پر ځان باوري یو او نور خلک هم پر موږ باور لري. له دې هره یوه یې د سیالۍ په میدان د ښه مقام د تر لاسه کولو لپاره هڅه کوو. پر نورو باوري خلک د ماتې خوړلو پر لور حرکت کوي او پر ځان باوري خلک بیا د بریا پر لار.




پر ځان باوري کسان وایي: «خلک پر تا پوره باور نه لري، ته به هېڅکله هم بریالی نه شې.»

پر ځان باوري خلک وایي: «هغه باور چې پر ځان یې لرم، کاپي دی. کولای شم د هغه له عهدې ووځم.»

«له پرله پسې کار کولو لاس اخیستل بریا ته دې نه رسېدو ضمانت کوي.»

تاوني اُدل وایي: «هېڅکله مو موخه له لاسه مه ورکوئ، پرله پسې والی په کار کې ډېر مهم دی، که یو څوک تاسې ته وایي چې له هڅو مو لاس واخلی او تاسې هم په ځان کې په کاپي اندازه میل او باور ونه لری، پوه شی چې هېڅکله به بریالي نه شی.»

پر نورو باوري خلک موږ ته وایي: «د موخو تر لاسه کول ډېر وخت غواړي.»

پر ځان باوري خلک وایي: «موخې یوه یوه تر لاسه کېږي.»

د کریستف کولمب له یادښتونو څخه داسې مالومېږي، چې هغه به پر ځان باوري خلکو ته ډوډۍ ورکوله او پر نورو باوري خلک به یې همداسې وږي پرېښودل.

هغه په سینډ کې له لویو توپانونو سره د مقابلې لپاره گډون کاوه، هغه به له ماتې کښېنې سره ځان د سینډ یوې غاړې ته کاوه او په دې ډول به له محدودیتونو سره مخ کېده. د هغه په یادښتونو کې راځي چې: «نن ورځ مې د څپې سینه پرې کړې ده او مخ ته تللی یم.»

پر نورو باوري خلک موږ ته وایي: «نور بس ده، په کاپي اندازه مې ماتې خوړلې ده.»

پر ځان باوري خلک وایي: «دومره پرمختگ مې کړی دی، چې نور پښېماني او شا ته گرځېدل کومه مانا نه لري.»

اچ. پي. جنسن به حتماً د خپل باور په اړه فکر کاوه، چې وایي: «گټونکي په ځلونو واري ودرېږي، خو د سیالۍ د داور غږ هېڅکله نه اوري.»

پر نورو باوري خلک وایي: «تاسې د موخو لاس ته راوړلو توان نه لری.»

پر ځان باوري خلک وایي: «یوځه نوره هڅه هم وکړئ، د شپې تر ټولو تیاره ساعت له سپین سهاره مخکې وي.»

هریت بیچر استو له خپل پر ځان باوري خلکو څخه د اطاعت په اړه وایي: «کله چې داسې فکر کوی چې ستونزو تاسې له هرې خوا راگیر کړي یاستی او دې پایلې ته رسېدلي وی چې نور د مقاومت کولو شیمه نه لری، بیا بیا درته وایم تسلیم نه شئ. دا دقیقاً هغه وخت او ځای دی چې نور شرایط تغیر کوي.»

نو پر دې اساس، کله چې حالات د موخو لاس ته راوړلو تقاضا نه کوي، کله چې ستونزې ډېرې لویې معلومېږي، دا مهال ستاسې دنده یوازې او یوازې ادامه ورکول دي. که ودرېدی، په ډېر زیات احتمال سره بریا تر هغې ډېره درته نږدې ده، کوم یې چې تاسې په اړه تصور کوی، نو مخ پر وړاندې حرکت کولو ته ادامه ورکړئ.


## برېښنا شرکت: له تاجکستان څخه د وارډېدونکې برېښنا کچه له ۳۵۰ میگاواټو څخه ۴۰ میگاواټو ته کمه شوې

د افغانستان برېښنا شرکت وایي چې له تاجکستان څخه د وارډېدونکې برېښنا کچه له ۳۵۰ میگاواټو څخه ۴۰ میگاواټو ته کمه شوې ده.

د دغه شرکت ویاند وحیدالله توحیدي وایي چې په تاجکستان کې د اوبو کمښت راغلی چې له همدې امله له اوبو څخه د برېښنا د تولید کچه راټیټه شوې، نو ځکه یې پر افغانستان باندې برېښنا کمه کړې ده.

وحیدالله توحیدي امریکا غږ ته ویلي چې د دې تشې لپاره یې له ازبکستان نه د برېښنا د لېږد کچه ډېره کړې ده.

هغه زیاته کړې: «د تاجکستان د برېښنا له کمېدو سره موږ د ازبکستان نه ۴۰۰ میگاواټه برېښنا واخیسته او سیستم ته مو ورډېره کړه چې ۲۰۰ یې عملاً وصل او پاتې به یې ډېر ژر افغانستان ته ولېږدول شي.»



توحیدي دغه راز زیاته کړې چې د تاجکستان د برېښنا ستونزه د اوبو ده او ښکاره نه ده چې څه وخت به حل شي، خو دوی اوس ازبکستان ته هیله مند دي چې د اړتیا وړ برېښنا به له دغه هېواد څخه پوره کړي.

توحیدي ویلي چې له تاجکستان څخه د وارډېدونکې برېښنا د کچې د کمېدو له امله په کابل او یو شمېر نورو ولایتونو کې خلک د څو ساعتونو لپاره له برېښنا نه محروم شوي، خو د کورني تولید په واسطه به د نوبت پر اساس ورته ووېشل شي.

په ورته وخت کې کابل ښاریان هم د برېښنا له پرچاوۍ څخه سرټکوي او حکومت په دې برخه کې پر ناغېرۍ تورنوي. دوی وایي چې د ولسمشر غني په تېره دوره کې ژمنه کړې وه چې ډېر ژر به د هېواد د برېښنا ستونزه حل کړي او پر دې سربېره به د افغانستان برېښنا نورو هېوادونو ته هم وغځوي، خو د دوی په خبره ولسمشر په خپلو ژمنو کې پاتې راغلی او یوازې د هېواد د برېښنا ستونزه هم نه ده حل شوې.

د یادونې ده چې افغانستان په عمومي ډول ۷۰۰۰ میگاواټه برېښنا ته اړتیا لري، خو اوسمهال یوازې ۱۳۵۰ میگاواټه برېښنا په واک کې لري چې ۳۵۰ میگاواټه له کورني تولید څخه ترلاسه کېږي او نوره یې له ازبکستان، تاجکستان، ایران او ترکمنستان نه واردوي.

## ملا برادر: که امریکایي ځواکونه په ټاکلې نېټه له افغانستان څخه ونه وځي، اړینې پرېکړې به وکړو

د طالبانو سیاسي مرستیال ملا عبدالغني برادر خبرداری ورکړی چې که امریکایي ځواکونه په ټاکلې نېټه له افغانستان څخه ونه وځي، نو دوی به اړینې پرېکړې وکړي.

ملا برادر دغه څرگندونې له ایراني رسنۍ، تسنیم سره په یوه ځانگړې مرکه کړې او ویلي یې دي چې د امریکا د متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ کومه پټه هوکړه نشته او دغه هېواد د دوحې هوکړې له مخې، په افغانستان کې خپل سرتېري ۸۶۰۰ ته را کم کړي دي.

د طالبانو دغه چارواکي د افغانانو ترمنځ د خبرو لپاره د پنځو زرو طالب بندیانو ازادول شرط بللي او پر دې یې ټینگار هم کړی دی. هغه زیاته کړې چې د قطر د هوکړې له مخې، باید د بندیانو ازادولو بهیر مخې ته ولاړ شي.

د طالبانو سیاسي مرستیال او د قطر دفتر مشر ملا برادر په راتلونکې احتمالي حکومت کې د ولسمشر غني او د مخالفو افغانانو د ونډې په تړاو ویلي چې هوکړې ته له رسېدو وروسته هېواد ته خدمت د ټولو خلکو حق دی.



ملا برادر په داسې حال کې له افغانستانه له مهالوېش سره سم د امریکایي ځواکونو پر وتلو ټینگار کوي چې امریکایي ځواکونو د افغانستان په یو شمېر ولایتونو کې خپلې پوځي اډې افغان ځواکونو ته سپارلې دي. دغه راز د امریکایي ځواکونو یوه برخه بېرته خپل هېواد ته ستانه شوي او ټاکل شوې چې د روان میلادي کال تر پایه به متحده ایالتونه خپل زرگونه نور سرتېري هم له افغانستان څخه وباسي.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې له مخې، ټاکل شوې تر اوسه حکومت ۴۴۰۰ طالب زندانیان خوشي کړي او د طالبانو له لورې هم د حکومت شاوخوا ۸۶۱ تنه بندیان خوشي شوي دي. که څه هم حکومت د شپږ سوو طالب زندانیانو له ازادولو ډډه کړې، خو اوس داسې ښکاري چې یاده پرېکړه یې بېرته اخیستې او د دغه شمېر بندیانو د ازادۍ پروسه یوځل بیا پیل شوې ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۸۰ |
| € | ۸۷,۷۰ |
| Rp. | ٤٥۷ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹٥,٥۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
WAYGAL PRINTING CO
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

Maseer Daily
New Vision, New Journey
سه شنبه د ۱۳۹۹ د زمري اوومه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۸مه | ۵۷۵مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۳ | لمر ختل ۰٤:۵۹ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:٤٦ | ماښام ۰۷:۰۱ | ماخوستن ۰۸:۳۹

## نړۍ



د کرونا ویروس تازه څپه؛

# په نړۍ کې د کرونا د مثبتو پېښو او مړو شمېر یو ځل بیا د ډېرېدو په حالت کې دی

۳

## راپورونه: د لبنان د حزب الله ډلې او اسراییل ترمنځ په ګډه پوله کې یوځل بیا نښتې پیل شوې



په اسرییل او لبنان کې رسنۍ وايي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ په سرحدي سیمو کې د اسراییلي سرتېرو او د حزب الله د ډلې د جنګیالیو ترمنځ نښتې شوې دي.
د اسراییل پوځ وايي، د هغې وسله والې ډلې مخه يې نیولې ده چې غوښتل يې د اسراییل خاورې ته داخله شي.
په ورته وخت کې ځینو عیني شاهدانو رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې د شیبا په سرحدي سیمه کې یې د توغندیو ډزې اورېدلې دي. په دغو نښتو کې د تلفاتو او زیانونو په اړه تراوسه څه نه دي ویل شوي.
د اسراییل پوځ په سیمه کې خلکو ته ویلي چې له خپلو کورونو څخه ونه وځي. د دغه هېواد لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو تر جګړې لړه شېبه مخکې ویلي چې له لبنان څخه پر اسراییل د هر ډول برید مسوولیت د حزب الله ډلې په غاړه دی. تېرکال د اګست په میاشت کې د حزب الله ډلې دوه غړي د سوریې په دمشق ښار کې ووژل شول. دې ډلې ویلي وو چې برید اسراییل کړی و او دوی به د خپلو وژل شویو ملګرو غچ واخلي. په لبنان کې یوه چارواکي چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي، ویلي چې تېره اونۍ په سوریه کې د اسراییل په یوه برید کې د حزب الله ډلې یو غړی ووژل شو. د دغه چارواکي په وینا، تازه نښته د هماغه برید په ځواب کې پیل شوې ده.

## ایران په تازه اقدام کې یوه لویه جنګي بېړۍ هورمز تنګي ته استولې ده

د سپوږمکۍ له لارې تازه اخیستل شوي انځورونه ښیي چې ایران د امریکا جنګي بېړۍ ته ورته یوه لویه جنګي بېړۍ جوړه کړې او هورمز تنګي ته یې استولې ده.
تهران چې په خلیج کې د امریکا او د لویدیځو هېوادونو د بېړیو له شتون سره مخالفت کوي، تل یې د هورمز په ستراتېژیک تنګي کې پوځي مانورونه کړي دي. د یادونې ده چې له دغه تنګي څخه د نړۍ ۳۰٪ اومه تېل انتقالېږي.
په بحرین کې د امریکا د سمندري ځواکونو ویاندې ربېکا رېباریچ ویلي: « موږ نه پوهېږو چې ایران د دغه ډول کښتۍ په جوړولو سره څه هیله لري.»
مېرمن ربېکا ویلي چې دوی د هر ډول خطر پر وړاندې د خپلو سمندري ځواکونو پر وړتیا باور لري.
د ایران او امریکا ترمنځ کړکېچ له ۲۰۱۸ ز کال نه راپه دې خوا هغه وخت پیل شو چې د امریکا ولسمشر د ایران او د نړۍ د شپږو قدرتونو ترمنځ اټومي معامله ونه منله او پر ایران یې بیا بندیزونه ولګول. ایراني پوځیانو د اپرېل په میاشت کې وویل چې که په خلیج کې یې امنیت وګواښل شي، دوي به د امریکا جنګي کښتۍ له منځه یوسي.


## وزارت مالیه: عواید ملی امسال به دلیل شیوع کرونا ۲۵ تا ۳۰ درصد کاهش می‌یابد



نخستین اجلاس حاشیه‌ای نشست چهارم هیأت عالی‌رتبه درباره تأثیرات اقتصادی و اجتماعی شیوع ویروس کرونا دیروز در ارگ ریاست جمهوری برگزار شد. عبدالحبیب ځدران، معین مالی وزارت مالیه، در این نشست درباره وضعیت مالی و اقتصادی کشور به اشتراک کننده گان آن، معلومات داده است.
او در بخشی از صحبت‌هایش گفته است که شیوع ویروس کرونا بر عواید کشور تأثیر منفی گذاشته است.
به گفته ځدران، پیش‌بینی می‌شود که عواید ملی تا پایان سال مالی جاری ۲۵ تا ۳۰ درصد نسبت به سال گذشته کاهش پیدا کند. سال گذشته بیش از ۲۰۰ میلیارد افغانی عواید جمع‌آوری شده بود.
وزارت مالیه می‌گوید که با شیوع ویروس کرونا رشد اقتصادی کشور در سال جاری و سال آینده کاهش خواهد یافت و تأثیرات ناشی از شیوع این ویروس دامنه فقر و بی کاری را گسترده‌تر می کند.
معین مالی وزارت مالیه از جانب دیگر گفته است که حکومت همه تلاش‌ها در امر مبارزه با کرونا را روی برنامه‌های دارای اولویت متمرکز کرده است.
رافاییل، مسؤل اتحادیه اروپا برای کشورهای آسیایی، گفته است که شیوع ویروس کرونا همه‌ی جهان به خصوص کشورهای دارای اقتصاد ضعیف را به شدت متأثر کرده است. او تأکید کرده است که جامعه جهانی باید با این کشورها برای مبارزه علیه پی‌آمدهای اقتصادی و اجتماعی آن کمک کند.
او همچنان خواهان توجه حکومت برای تأمین «شفافیت و موثریت» در مصرف کمک‌های جامعه جهانی شده است.

## ژونــــد

## د شتمن کېدو لپاره لومړنۍ پانګې ته اړتیا نشته



د لومړنۍ شتمنۍ نه درلودل ډېری خلک په خپله لاره کې خنډ بولي، نو همدا لامل دی چې لاس تر زنې ناست وي او په هېڅ کوم داسې کار لاس نه پورې کوي چې خپله راتلونکې جوړه کړي. اول خو هېڅ کار او کسب په لومړي سر کې ډېرې پانګې ته اړتیا نه لري، خو که یې ولري هم، که چېرې تاسو کلک هوډ ولرئ او په پوره قوت او انرژۍ د خپلې موخې په طرف ګامونه واخلئ، خپلې اړتیاوې بیا له هرې خوا پوره کولی شئ. هر څه ستاسو په مینه او لېوالتیا پورې اړه لري. کلک هوډ غرونه ماتولی شي. فکر وکړئ که د خپلې خوښې په اندازه پیسې پیدا کړئ، څه ډول کور، موټر، امکانات، تفرېح او اړیکې به ولرئ؟ موخې ته د رسېدو لپاره یوازېنۍ لار دا هم ده چې همدا اوس فکر وکړئ چې هغه څه ته چې رسېدل غواړئ، رسېدلي یاست. کېدای شي دا خبره درته مسخره ښکاره شي، خو حقیقت دا دی چې بریا او موخې ته د رسېدو احساس او تصور مو بریالي کوي هم.

## د نړۍ تر ټولو کوچنی ۴جي ځیرک موبایل

اوسمهال د نړۍ اکثره پرمختللې کمپنۍ ستر ځیرک موبایلونه وړاندې کوي چې اکثره تقریباً ٦ انچه مخپاڼې لري. ځینې کمپنۍ غواړي د قاتېدونکې مخپاڼې او دې ته ورته ټکنالوژۍ له لارې له دې هم ستر مخپاڼه لرونکي ځیرک موبایلونه وړاندې کړي. کاروونکي هم اکثره د مختلفو لاملونو له امله سترې مخپاڼه لرونکي ځیرک موبایلونه خوښوي، چې له همدې امله په بازار کې کوچني ځیرک موبایلونه په نشت حساب دي. خو اوس یوه چینایي کمپنۍ د نړۍ تر ټولو کوچنی ځیرک موبایل وړاندې کوي. دغه ځیرک موبایل به اندرایډ۱۰ عامل



سیستم ولري او جېلي۲ نومول شوی دی. جېلي۲ د نړۍ تر ټولو له کوچنۍ ۴جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوونکی ځیرک موبایل دی. دغه ځیرک موبایل یوني هرټز نومې کمپنۍ له لوري جوړ شوی او په ۲۰۱۷ کال کې د وړاندې شوې

ماستر ډېبټ کارت
د عزیزي بانک ماستر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.



1515 www.azizibank.af
عزیزی بانک Azizi Bank